VIA Victim Information and Advice

# معلومات

## د عريضي د پروسي متعلق

که تاسو ته دا سکوک په بله ژبه کې، په غټ چاپ کې، په صوتی شکل کې، په بريل کې او يا د متن په بله بڼه کې پکار وی نو مهربانی اوکړئ د **VIA** سره تماس اونيسئ. مونږ په رنړ ټيکسټ ريلې پريفيکس لمبر ۱۸۰۰۱ باندې ستاسو خبره اوريدې شو.

© Crown copyright 2003 Revised September 2008 APS Group Scotland DPPAS12584 3/12

## اضافی معلومات

که تاسو اضافی معلومات غواړئ او يا که داسې څه خبره وی چې تاسو پکې څه شک ولرئ نو بيا مهربانی اوکړئ د خپل د VIA د منطقوی دفتر سره په هغه ټيلفونی شميرو تماس اونيسئ چې په ضميمه شوی لاسليک کې ذکر شوی دی.

او يا زمونږ د تحقيقاتی مرکز سره په دې ټيلفونی شميرو 01389 739557 او 0844 561 3000 اړيکه ټينګه کړئ.

او يا زمونږه ګورت ځای وګورئ www.copfs.gov.uk

د متاثرينو لپاره معلومات او مشوره
IN DEFENSد دولت د مامور د پولی ماموريت د خدمت برخه

## مخکې به څه کيږی؟

د تحقيق/انکشاف د مرحلې د سر ته رسيدو نه ورسته، به قاضی او يا VIA تاسو ته دا احوال درکړی چې د ستاسو د قضيې به تعقيب کيږی او که نه.

که چرې وی، نو هغوئ به تاسو د دې نه خبر کړی چې په تورن باندې به کوم قسم الزامونه لږی او دا چې د قضيې تعقيب به په کومه محکمه کې کيږی ( د ولسوال په محکمه کې او که په ستره محکمه کې ). VIA به تاسو ته د قضيې په پرمختګ او د دې پروسې په حواله اضافی معلومات درکوی او تاسو ته به دا هم وايی چې مخکې به څه کيږی.

که دا فيصله اوشی چې قضيه به نه تعقيب کيږی، نو تاسو د قاضی نه د دغه فيصلې د وضاحت خواست کولې شئ.

## د مرستې مقامی/منطقوی ادارې

**د سکاټلينډ د متاثرينو لپاره مرستې**

د جرم متاثرينو ته عملی او نفسياتی مرسته وړاندې کوی. د منطقوی معلوماتو لپاره، اړيکه ټينګه کړئ:

په دفتری اوقاتو کې **0845 60 39 213**

يا اوګورئ **www.victimsupportsco.org.uk**

:

VIA دا هم کولې شی چې تاسو د ستاسو په منطقه کې کارکونکی نورو مرسته کونکو ادارو سره معرفی کړی.

89522 INFO ABOUT PETITION_83054 PETITION 07/03/2012 09:02 Page 2

# تعارف

اد دوسيه د عريضي د پروسي د مختلفو مرحلو احاطه کوی. مونږ طمع لرو چې اد به د څنې داسي سوالونو ځواب اوکړی چې تاسو يې لرئ. مهرباني اوکړئ زمونږ نه پښتنه اوکړئ که تاسو څه شک لرئ.

## معلومات او مشوره

**د متاثرينو لپاره معلومات او مشوره (Victim Information and Advice (VIA))** تاسو ته اد دوسيه درکوی ځکه چې تاسو متاثره يئ، او يا ګواه/شاهد يئ، د يو جرم کوم چې قاضئ ته راپور شوی دی. قاضئ په سکاټليټنډ کې د جرم د تحقيق او تعقيب مسئول دی.

قاضئ اد فيصله کړې ده چې په ملزم به **په عريضه** پيش کولي کيږی. عريضه د ملزم خلاف د الزامونو هغه لمړئ حقوق مسوده ده چې په سنګينو جرمونو کې تهيه کيږی.

اد دوسيه به تاسو ته اد معلومات در کړی چې د عريضي د قضيي په لمړو مرحلو کې به څه کيږی.

## د VIA متعلق

VIA د دولت د مامور او د پولې مامور د مامورين د خدمت يوه برخه ده. د VIA کارکونکې قاضيان نه دی. زمونږ کار د متاثرينو، د ګواهانو او د اچانک مرګ په څنې معاملو کې او د جرم سره تړلي مرګې کې د هغه د نژدې رشته دارانو مرسته کوو. د VIA دوسيه

- زمونږ ستاسو مرسته څرنګه کولي شو* د دي نور وضاحت کوی چې مونږ څه کوو.

# د عريضې پروسه

## لمړئ مرحله (۱)

### د اضافي پلټنې لپاره الزام

**(ګواهانو په دي کې شرکت نشی کولی)**

اد هغه لمړې موقع ده چې تورن په محکمه کې حاضريږی. پيشی د ولسوالۍ په عدالت کې په شخصي توګه کيږی. ملزم نه د هغه د ګناهګارۍ او يا د بې ګناهۍ په باره کې پښتنه نه کيږی

ولسوالی د ملزم د **بيرته ليږلو** (په محبس کې ساتل)حکم کولي شی تر بلې پيشۍ پورې.

خو، ولسوالی د ملزم **په ضمانت باندي** د آزادولو حکم هم کولی شی. داسي په سنګينه الزام لکه د قتل په قضيه کې هم کيدي شی.

د ضمانت په کيفيت کې به هم ملزم د څنې خاصو شرائطو پالنه کوی، لکه د ګواهانو پروړل او د هغوئ په معمولو کې دخل کول. VIA به تاسو ته د ضمانت سره د تړلي شرائطو په اړه وينا کوی.

## دوهمه مرحله (۲)

### مکمل الزام

**(ګواهانو په دي کې شرکت نشی کولی)**

که ملزم په محبس کې اوساتل شی، نو هغوئ به لس ورځو کې دننه بيا محکمې ته پيش کولي شی. بيا به هم، د هغوئ نه د ګناهګارۍ او يا د بې ګناهۍ په باره کې پښتنه نه کيږی.

ولسوال به اوس د دي فيصله کوی چې ملزم دي بيرته محبس ته اوليږل شی او که په ضمانت دي آزاد کړي شی تر څو چې د مقدمي جګپوړي وکيلانو اد فيصله نه وی کړې چې د قضيي پرمختګ به په کوم ډول کيږی.

که ملزم په ضمانت آزاد کړي شی، مقدمه بايد د ملزم په محکمه کې د لمړئ پيشۍ نه ورسته په يو کال کې دننه شروع شی.

که ملزم په محبس کې وساتل شی، مقدمه بايد د مکمل الزام نه ورسته په يو سل لس (۱۱۰) ورځو کې شروع شی که چرې قضيه د ولسوال او د قضاوت کونکی جرګې لخوا تصفيه کيږی، او په يو سل څلويښت (۱۴۰) ورځو کې که چرې اد د ستری محکمې لخوا تصفيه کيږی.

په څنې کيفيتونو کې اد وخت اضافه کول کيدي شی هم شی خو په بيشتره حالاتو کې به د دي مقرر وخت سخته پابندی کولي کيږی.

## دريمه مرحله (۳)

### د پيش آګاهی تحقيق/انکشاف

د پولې مامور د اداري يو غړی به ستاسو او د نورو ګواهانو سره مصاحبه/مرکه کوی او تاسو سره به ستاسو د پوليس تفتيشي مسئول ته ورکړی شوی بيانونو په اړه بحث کوی. هغوی به د ربط د لرونکی اضافي معلومات د پلټنې کوشش هم کوی.

که ستاسو مصاحبه اوشی، نو اد ملاقات تاسو ته اد موقع هم درکوی چې تاسو پښتنې اوکړئ او معلومات اولرئ چې په قضيه کې به مخکې څه کيږی.

دي پروسي ته د **پيش آګاهی (پری کګنيشن) تحقيقات** ويل کيږی. تاسو د دي په اړه اضافي معلومات په بيله دوسيه کې ترلاسه کولي شئ.Leaflet د خپل بيان ورکولو په اړه معلوماتي دوسيه (پری کګنيشن).